# د پبلیک چارج اړوند په حقایقو پوه شئ

**دا معلوماتي پاڼه د قانوني مشورې ورکولو بدیل نه دی.** هغه خلک چې په دې اړه اندیښنه لري چې څنګه عمومي امتیازات د دوی د کډوالۍ پر وضعیت اغیزه کولای شي، په دې اړه باید دوی د کډوالۍ چارو د یو وکیل څخه د مرستې غوښتنه وکړي.

*وروستي تازه شوي معلومات 2022 د ډسمبر 19*

## د 2021 کال د مارچ له 9م نېټې څخه وروسته، د پبلیک چارج پراخ فدرالي قانون د تل لپاره بند شوی دی. دا قانون نور په متحده ایالاتو کې په هیڅ ځای کې نه پلي کیږي. دا په دې معنی:

- چیکډوال کولای شي په خوندي توګه د عامي روغتیا، تغذیې او د هستوګنې امتیازات ترلاسه کړي.
- دا امتیازات به د دوی د کډوالۍ پر وضعیت اغیزه ونه کړي.

**د 2022 کال د سپتمبر پر 8مه نېټه، د متحده ایالاتو د کورني امنیت وزارت یو نوی قانون خپور کړ چې د "پبلیک چارج" برنامې په اړه بېرته هغه پوهاوي خپور شي چې له 1999 راهیسې موجود وو.**

نوی قانون به د کډوالۍ په ټولو هغه غوښتنلیکونو کې پلی شي چې د 2022 کال د ډسمبر په 23مه نېټه یا له دې څخه وروسته ثبت شوي دي. په ورته وخت کې، د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدمات (USCIS) به د ولسمشر بایډن [ایګزیکیټیو اردر 14012]() تعقیب کړي او د پبلیک چارج برنامې هغه پالیسي به عملي کړي چې د [د 1999 په اینټرم فیلډ ګویډینس]() کې ټاکل شوي دي.

د 1999 کال د پبلیک چارج قانون اوس عملي کیږي، مګر دا په یاد ولرئ:

- چې ډیری غیر تابعیت لرونکي کسان د پبلیک چارج له قانون څخه مستثنا دي.
- ډیری هغه غیر تابعیت لرونکي کسان چې د عامه امتیازاتو مستحق دي د پبلیک چارج له قانون څخه مستثنا دي.
- ډیری هغه امتیازات چې د غیر تابعیت لرونکو ماشومانو یا د هغوی د کورنۍ نور غړي یې ترلاسه کوي، په متحده ایالاتو کې د غیر تابعیت لرونکو کسانو د پبلیک چارج ازموینې په جریان کې **نه** حسابیږي.

د نورو معلوماتو لپاره د د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ چارو خدمات (U.S. Citizenship and Immigration Services, USCIS) [پبلیک چارج بریښنایي سرچینو او ویبپاڼې]() ته مراجعه وکړئ.

## د پبلیک چارج قانون پر ډیرو هغه کسانو باندې *نه* پلې کیږي چې د عامه امتیازاتو مستحق وي.

ځینې هغه غیر اتباع چې د پبلیک چارج له قانون څخه مستثنا دي، په دوی کې لاندې کسان شامل دي، مګر یوازې تر دوی پورې محدود نه دي:

- هغه غوښتونکي چې د کډوالي یا پناه غوښتنې د حالت په لټه کې دي؛
- د متحده ایالاتو دایمي اوسیدونکي چې په دوی کې هغه کسان هم شامل دي چې خپل ګرین کارټ تمدیدوي؛
- هغه غیر اتباع چې د T (د انساني قاچاق قرباني) یا U (د جرمي فعالیت قرباني) په توګه د خپل حیثیت غوښتنه کوي؛
- هغه غوښتونکي چې د ټیمپرري پروټیکټډ سټېټس (TPS) په لټه کې وي؛
- د وائلنس اګینسټ وومین ایکټ (VAWA) له مخې د خپل حق غوښتونکي کسان؛
- ځانګړي کډوال تنکي ځوانان؛
- هغه غوښتونکي چې د نظامي مشروطي ازادۍ یا پیرول غوښتنه کوي (PIP).

**د عامه امتیازاتو کوم پروګرامونه د پبلیک چارج په توګه شمیرل کیږي؟**

د اوس لپاره، پبلیک چارج قانون یوازې د دې برنامو لپاره کارول کیږي:

- د ټیمپرري اسیسټېنس فار نیډي فیمیلي له مخې (TANF)، میاشتنې نغدي امتیازات)؛
- د بل ایالت، قبایلي، سیمه ایز یا محلي د نغدو مرستو پروګرامونه ("جینیرل اسیسټینس")؛
- سپلیمینټل سیکیوریټي اینکوم (SSI)؛ او
- حکومتي پروګرامونه چې د هغو کسانو ملاتړ کوي چې د اوږدمهاله پاملرنې خدماتي موسسو کې ژوند کوي، لکه د زړو کسانو د هستوګنې مرکز یا د رواني روغتیایي خدماتو مرکز.

OREGON Latino Health Coalition — Oregon Law Center — Oregon Health Authority

**د عامه امتیازاتو کوم پروګرامونه د پبلیک چارج په توګه *نه* شمیرل کیږي؟**

ډیر امتیازات، لکه هغه چې په لاندې لیست کې ذکر شوي دي، خوندي دي، او د پبلیک چارج په هیڅ ازموینه کې **نه** حسابیږي:

- Oregon روغتیایي پلان (OHP) لاندې کسان پوښي:
  - د 21 کالو څخه کم عمره ځوانان (د بیلګې په توګه، Medicaid، د ماشومانو د روغتیایي بیمې پروګرام (Children's Health Insurance Program, CHIP) او کوور آل کیډز)
  - امیندواره میرمنې (د بیلګې په توګه، Medicaid او هغه تابعیت لرونکي کسان چې د خپل روغتیایي پلس، یا CWM پلس برنامې یې پرې ایښې وي)، په دې کې د زیږون وروسته خدمات هم شامل دي
  - د 24-56 کالو عمر لرونکو خلکو (لکه هغه تابعیت لرونکي کسان چې د خپل روغتیایي برنامه یې پرې ایښې وي Waived Medical, Citizenship) (CWM) لپاره بیړنې Medicaid خدمات
  - نور ټول لویان (د بیلګې په توګه، Medicaid او د Oregon هیلتیر)
- د زیږون اړوند روغتیایي پوښښ
- Oregon MothersCare برنامه
- د سپلیمینټل نوټریشن اسیسټینس پروګرام (SNAP) یا د ټولیز EBT په شمول د خوراکي توکو کوپونونه
- عامه هستوګنځایونه او د 8 مې برخې مرستندیونه کورونه
- د 8مې برخې کرایې مرسته (د مثال په توګه، د کور د انتخاب کوپونونه)
- ښځې، تې خوره ماشومان او کوچنیان (WIC) (د ښځو، ماشومانو، او تر 5 کلنو ماشومانو لپاره د تغذیې مرستې)
- د COVID-19 معاینات، پاملرنه، او واکسین کول
- د خوړو له بانک یا د خوړو له ذخیرو څخه خواړه ترلاسه کول
- په ناورین یا بیړني حالت کې مرستې یا امتیازات
- د ځانګړو زده کړو خدمات چې د ډیس ابیلیټیز ایجوکیشن اکټ (IDEA) برنامې لخوا تمویلیږي او Medicaid خدمات پوښي.
- د ښوونځي عمر لرونکي ماشومانو لپاره د ښوونځي پر بنسټ روغتیایي خدمات
- ایرلي هیډ سټارټ اینډ هیډ سټارټ/Oregon پری کینډرګارټن
- په ښوونځي کې د وړیا او یا لږ لګښت لرونکي غرمې ډوډۍ پروګرام
- د ټولنیز امنیت تقاعد
- Medicare
- د Medicare، ډې برخې د ټیټ عاید لرونکي مالي مرسته
- اولډر امیریکن اکټ (OAA) پروګرامونه.
- د دولت لخوا تمویل شوي هغه پروګرامونه چې د لویانو او معلولیت لرونکو خلکو سره مرسته کوي (د مثال په توګه، د Oregon پروژې خپلواکي)
- د بیکارۍ بیمه
- د Oregon د روغتیایي بیمې له لارې د سوداګریزي روغتیا بیمې پریمیم مالي مرسته
- د کارمونديي اړوند د ورځنۍ پاملرنې خدماتو لپاره د ماشوم د پاملرنې تادیه
- *او د روغتیایي او ټولنیزو خدماتو ډیر نور پروګرامونه چې دلته ذکر شوي نه دي*

**یوازې د عامه امتیازاتو ترلاسه کول یو څوک د پبلیک چارج برنامې لاندې *نه* راولي. د پبلیک چارج ازموینه:**

- د غیر تابعیت لرونکو کسانو ټولو شرایطو ته کتل کیږي — نه یوازې دا چې دوی د عامه امتیازاتو څخه استفاده کوي.
- لکه څنګه چې د فدرالي کډوالۍ قانون لخوا دا اړینه ده، د غیر تابعیت لرونکو کسانو په اړه دغه مواردو ته ګوري
  - "عمر؛ روغتیا؛ د کورنۍ حالت؛ شتمني، سرچینې، او مالي حالت؛ اوزده کړې او مهارتونه،"
  - بشپړه شوې I-864 فورمه (د ملاتړ تحلیف پاڼه)، د غیر اتباعو په استازیتوب ثبت شوې ده، او
  - د نغدو مرستو مخکنۍ یا اوسنۍ رسید او د حکومت لخوا ورکړل شوي اوږدمهاله سازماني د پاملرنې خدمات ورته چمتو شوي دي.

**ایا په دې اړه پوښتنې لرئ؟ تاسو یوازې نه یاست. د مرستې خدمات شته.**

په 1-800-520-5292 شمېره د Oregon پبلیک بینیفیټس خدماتي اداري ته زنګ ووهئ.

- د وړیا یا ټیټ لګښت قانوني خدماتو لپاره د ملي کډوالۍ قانوني خدماتو لارښود ته مراجعه وکړئ.
- ستاسو په سیمه کې د کډوالي چارو د یو شخصي وکیل لپاره لټون وکړئ.
- د Oregon ځینې اوسیدونکي ممکن ددې مستحق وي چې د Portland کډوالۍ چارو محکمه کې د Oregon د ایکویټي کورپس له لارې یې په وړیا توګه استازیتوب وشي. د نورو معلوماتو او مرستي ترلاسه کولولو لپاره دغه ویبپاني ته مراجعه وکړئ.
- د نورو قانوني موضوعاتو لکه هستوګني، توقیف، طلاق، کار، د قربانیانو حقونه او داسي نورو مسایلو په اړه د د Oregon لا هیلپ د غیر انتفاعي حقوقي خدماتو لارښود یا د Oregon ستېټ بار د وکالتي راجع کولو له خدماتي اداری څخه مرسته وغواړئ.
- د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره protectingimmigrantfamilies.org ته مراجعه وکړئ.